د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام



## په‌دې ګڼه کې:

- د استرالیا هېواد له لوري کلیوالي پراختیا تمویل پروژو سره د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت ناسته
- په دایکندي ولایت کې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام رسماً پیل شو
- مېرمن بانو، په کلي کې لومړۍ هټۍ‌واله
- په غور ولایت کې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام پرانیسته
- د خوست ولایت په انکشافي شورا ناسته کې دزون د مسوول ګډون
- د کرنې، مالدارۍ او اوبو لګونې وزارت د بنوالۍ او مالدارۍ پروګرام سره د همغږۍ ناسته
- په لوګر ولایت کې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام پیلبدل

## د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام:

د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام - WEERDP د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت له رهبرۍ لاندې په ۲۰۱۸ ز کال کې په‌دې موخه پر لار واچول شو، چې د هېواد په کلیوالي سیمو کې د ښځو اقتصادي او ټولنیز ژوند پیاوړی کړي. د پروګرام اتیا ٪۸۰ ګټه اخیستونکي ښځې تشکیلوي. دا پروګرام به د سپما ګروپونو، تولیدي ګروپونو، د پور او سپما کلیوالي اتحادیو او د کوچنیو او منځنیو تشبثاتو له طریقه د کلیوالي اقتصاد کچه لوړه کړي او د هېواد په کلیوالي سیمو کې به زرګونه کلیوالو ته د کار زمینه برابره کړي.

## د میاشتې غوره کارمند



د دې میاشتې ګڼه کې د پروګرام غوره کارکوونکی ښاغلی عبدالله ناصري ټاکل شوی‌دی، هغه د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام د ټولنیزو بنسټونو د پرمختیا څانګې کارمند دی. ښاغلی ناصري‌د اقتصاد په برخه کې د ماسترۍ تر کچې لوړې زده‌کړې لري. د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام سره له تېرو ۳ کالونو راهیسې د د ټولنیزو بنسټونو د پرمختیا څانګې سره کارمند دی، چې د کوچیانو د تشبثاتو د پرمختیا په برخه کې یې نه‌سترې کېدونکي هلې ځلې کړې‌دي.ځکه نو د پروګرام یو فعاله غړی ګڼل کېږي، د پروګرام له‌خوا د پېژندنې په دې لړۍ کې نومړی د دې میاشتې له غوره کارکوونکو څخه وپېژندل شو.

د پروګرام ټول منصوبین د ښاغلي له فعالیتونو او نیکو اخلاقو څخه خوښ دي او پخپله کاري برخه کې نومړي ته د لا زیاتو بریاو او خوښیو هیله لري.

## د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او د افغاني ټولنې د انعطاف له طرحه شوې پروژې سره چې د استرلیا هېواد لخوا یې ملاتړ کیږي، د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام د کنفرانسونو په تالار کې ګډه غونډه جوړه شوه.



د افغاني ټولنې لپاره د انعطاف استرالیایي پروژه، چې د استرلیا هېواد د کلیوالي پراختیا یو پروګرام دی او د استرالیا هېواد د بهرنیو چارو او سوداګرۍ وزارتونو په مرسته د نورو پنځو سازمانونو لکه؛ د استرلیا aid action بنسټ، د آغاخان بنسټ، د استرالیا Care، Oxfam او world vision په ملتیا چې ټول یې غیر دولتي سازمانونه دي، د دې پروژې له طرحې سره یوځای په افغانستان کې د کلیو پراختیا لپاره فعالیت کوي.

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او د افغاني ټولنې د انعطاف له طرحه شوې پروژې سره چې د استرلیا هېواد لخوا یې ملاتړ کیږي، د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام د کنفرانسونو په تالار کې ګډه غونډه جوړه شوه.

له دې سره همهاله د افغانستان د مرستو مرکز (ACE)چې په دې پروژه کې د همغږۍ جوړوونکي کردار ترسره کوي، د افغان دولت او د استرلیا هېواد د بهرنیو چارو او د سوداګرۍ وزارتونو سربېره د غیر دولتي سازمانونو ترمنځه به هم یاد مرکز د اړیکو د پیاوړتیا لپاره همغږي پیدا کوي.

د دې پروژې راتلونکې ناسته به د روان ۲۰۱۹ کال د مې په لومړۍ نیټه د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ په وزارت کې جوړه شي.

## په دایکندي ولایت کې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام پرانیسته

د دایکندي ولایت د لوړ پوړو چارواکو، مدني فعالانو او رسنیو پر وړاندې د دایکندي ولایت د ولایت په مقام کې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام پرانستل شو.

د دایکندي والي ښاغلي سیدا انور رحتمي یاد ولایت ته د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام له راتګ څخه د مننې ترڅنګه وویل: د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت اغیزمن پروګرامونو ته په دې ولایت کې تل د خلکو پام وي، چې دا دې یو ځل بیا یې د یو داسې پروګرام په پلې کولو سره وکولای شول، په دې ولایت کې د خلکو او په ځانګړي توګه د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا لپاره د خدم مصدر وګرځي.



د هغه په دوام عوض علي پویا چې په دې ولایت کې د اقتصاد ریاست رییس دی، په دې ولایت کې یې د داسې پروګرام له پیل څخه مننه وکړه او زیاته یې کړ؛ چې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام پېل په دایکندي ولایت کې زموږ لپاره ستر ویاړ دی.

همدا راز محمد جمعه عرفان د کلیو بیا رغونې او پراختیا سرپرست رییس په دې اړه وویل: په لومړي پړاو کې به دا پروګرام د نیلي او ګیتي ولسوالۍ تر خپل پوښښ لاندې راولي، چې په دې ولسوالیو کې به د خود کفا ۶۸۰ ګروپونه، د پور او سپما ۸۵کلیوالي اتحادیې او همدا راز ۸۵ کوچنې او منځنې تشبثات جوړ کړي. ترڅو په دې سیمه کې ملي اقتصاد وده وکړي او د پروګرام ګټه اخیستونکو ته چې ۸۰ سلنه یې ښځې تشکیلوي عایداتي کاروبارونو پیدا شي.

هغه زیاته کړه چې دا پروګرام به په دایکندي ولایت کې د پورتنۍ موخې د ترلاسه کولو لپاره ۳۸ میلونه افغانۍ مصرف ته ورسوي چې د کارموندنې په سکتور کې به ۶۸۰۰ ولسي وګړي تر خپل پوښښ لانې راولي.

# مېرمن بانو، په خپله سیمه کې لومړنۍ هټۍواله



په بلخ ولایت کې د (سحر) د سپما گروپ غړې آغلې مېرمن بانو چې پخپله د بلخ ولسوالۍ د مرکزي کلي اوسیدونکې ده، په کال ۲۰۱۳ ز کې د سحر د سپما گروپ کې غړې شوه او د ۳۰ افغانیو په سپمولو سره یې وکړای شول چې د گروپ د غړو باور ترلاسه کړي.

آغلې بانو وایي: نږدې ۴ کاله وړاندې یعنې په کال ۲۰۱۳ ز کې د افغانستان د کلیوالي صنعتونو د پرمختیا ملي پروگرام یوه کارکوونکې د آغلې فاطمه سرفراز په نامه زموږ کلي ته راغله. د خبرو اترو لپاره یې د کلي یو شمېر مېرمنې د ښځینه شورا د رییسې په کور کې را ټول کړل او د یاد پروگرام په اړه یې د کلي مېرمنو ته بشپړ معلومات ورکړل، د هغې د خبرو په نتیجه کې لیواله شوم چې زه باید د سپما گروپ غړې شم، ترڅو د خپلې کورنۍ لپاره یوه اندازه پیسې وسپموم.

په گروپ کې له غړیتوب څخه دمخه د کور په چارو کې ښکیله یوه مېرمن وم او له هغه پرته مې کومه ځانگړې دنده نه لرله، اقتصاد مې هم ډېر کمزوری وو او له ژوند څخه به تل رنځېدم. تل به مې دا فکر کاوه چې زموږ راتلونکی ژوند به څنگه شي؟ ځکه چې زما خاوند خو د ولسوالۍ په بازار کې یو کوچنۍ هټۍ لري، چې عایدات یې هم ډېر کم دي، کله به دا فکر هم راتللو چې مخ ته د اولادونو اینده را روانه ده، د دوی د زده کړو لگښتونه به څنگه شي، زما لوریانې او ځامن به ښوونځي ته په دې سختو شرایطو کې څنگه ولاړ شي؟ له ځان سره به مې ویل ایا زما د خاوند گټه به د بچیانو د زده کړې اړتیاوې پوره کړای شي؟ ایا زما خاوند د کورني اړتیاو سربېره د کتابچو، قلمونو او د زده کړې په برخه کې د نورو اړتیاو د پوره کولو لپاره مالي توان لري؟ همدې فکرونو به لار راڅخه ورکه کړله او له ځان سره به مې ویل: څنگه کولای شم یوه داسې عایداتي لار پیدا کړم، چې د خپلې کورنۍ لپاره مالي تمویلوونکې وگرځم او د یو ښکلي ژوند په ترلاسه کولو کې له خپل خاوند سره مرسته وکړم؟ رښتیا هم چې دې پوښتنو راته رواني ستونزه پیدا کړې وه. له همدې امله د فاطمه جانې په هڅونې زه له سپما گروپ سره یوځای شوم، تر هغې چې د اتحادیې او سپما گروپونو د غړو په مشوره نږدې (۹) میاشتې وړاندې مې له اتحادیې څخه په اسلامي اصولو سره پور ترلاسه کړ. په دې پیسو مې د کور د انگړ په یوې څنډې کې چې مخ یې بهر ته وو هټۍ جوړه کړله. د وخت په تیریدو او د خاوند په مرسته چې هغه په دوکاندارۍ کې ښه تجربه لرله ما هم وکړای شول، چې د کلي د مېرمنو لپاره په نوې هټۍ کې هغه اجناس او تولیدات رانیسم چې هغوی یې د رانیولو په برخه کې له ستونزو سره مخ وو.

د دویم ځل لپاره مې بیا په اسلامي اصولو سره له اتحادیې څخه پور ترلاسه او پخپلې هټۍ کې مې پانگونه ډېره کړه. اوس د کلي مېرمنو ته چې هر څه پکاریږي هغه زما په هټۍ کې موجود وي او پرته له کومې ستونزې یې ترلاسه کولای شي. د یادونې وړ ده چې د تیرو حسابونو له تصفیې وروسته، مې اوس د (صفا) په نوم د پور او سپما له اتحادیې څخه هم ۲۴۰۰۰ افغانۍ پور ترلاسه کړی. په دې پیسو سره د پروگرام د کارکوونکو په مشوره غواړم خپلې هټۍ ته یوه پایه یخچال رانیسم، ترڅو په اوړي کې د ښباک لپاره گرمې نوشابې، اوبه، شوملې او داسې نور د ښباک شربتونه هم پلورنې ته وړاندې کړم. د یوې مېرمنې په توگه مې هیڅکله دا فکر نه کولو چې یوه ورځ به د بلخ په ټولې ولسوالۍ کې د لومړنۍ ښځینه دوکاندارۍ په توگه کار وکړم او د دې مشغولتیا له لارې یوه حلاله عایداتي لار خپلې کورنۍ ته پیدا کړم، ځکه چې ما د بې وزلۍ ژوند درلوده او زما د کورنۍ لپاره د روزۍ گټونکی یواځې زما خاوند وو. لیکن زه اوس په دې هټۍ کې د پلورنې له درکه په ورځنۍ بڼه له ۱۰۰۰ افغانیو څخه تر ۲۰۰۰ زره افغانیو پورې پیسې گټم او د دې ترڅنگ مې د کلي خلکو ته هم لویه اسانتیا پیدا کړې ده.

له کله راهیسې چې له دې پروگرام سره یوځای شوې یم، د خوښۍ او رضایت احساس کوم.. ځکه چې له دې پروگرام څخه دمخه موږ یواځې د کور په چارو کې بوختې مېرمنې وو او له هغو پرته مو نورو کارونو ته مخه نه شوه کولای. د دې پروگرام له سترو مرستو څخه یو هم دا وو چې زموږ د کلي مېرمنو ته یې دا څرگند کړل، چې تاسو هم کار کولای شئ او د ژوند د بهبود لپاره عایداتي سرچینې په خوځښت کې راوستلای شئ. پرځای د دې چې بې روزگاره د بې وزلۍ او بې وسۍ په جال گیر اوسئ. موږ ته یې دا را زده کړل چې کولای شو کار ته مخه وکړو، نوي عایداتي مشغولتیاوې ځانته پیدا کړو او که همت وکړو، کولای شو له خپلو نارینه‌و سره اوږه په اوږه آن په کور دننه په ډېرو لږو امکاناتو سره چې زموږ په اختیار کې دي، کار وکړو او دا څرگنده کړو چې موږ هم خپلو بچیانو ته حلال رزق گټلای شو.

په پای کې غواړم ووایم، چې زه د راتلونکي لپاره سترې موخې او پلانونه لرم. چې یو له هغو څخه د کاروبار لپاره د نویو مېرمنو په دنده گمارل دي، چې په دې کار سره به زما کاروبار نور هم پراخه شي. له یوې خوا به د کلي نورې مېرمنې او انجونې د کاروبارونو پېل ته وهڅول شي او له بلې خوا به هغوی هم زما په څېر له تیارو خونو څخه بهر او ژوند ته د یوې نوې دریڅې له لارې وگوري.

## د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام په غور ولایت کې پرانیستل شو

د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام د یو لړ دولتي مراسمو په ترڅ کې چې د دولت لوړپوړو چارواکو، د خلکو د استازو د کلیوالي پرمختیایي شوراګانو غړو، مدني ټولنو او ملي رسنیو حضور درلود، د سلواغې په ۱۵مه نېټه د غور ولایت په ولایتي مقام کې پرانستل شو.

دغه پروګرام د فیروز کوه په ولسوالۍ کې چې ۱۹۴ کلیوالي شوراګانې لري پلي کیږي، چې په نتیجه کې به یې په دې کلیو کې نږدې ۱۵۵۲ سپما ګروپونه جوړ کړي.

په دې مراسمو کې لومړی محفوظ الله فکور د کلیو بیا رغونې او پراختیا ولایتي رییس په غور ولایت کې د پروګرام د پلانونو، موخو او فعالیتونو په اړه تفصیلات وړاندې کړل او د ولایت له مقام، سیمه ییزه ارګانونو، موسساتو او مدني ټولنو څخه یې غوښتنه وکړه چې د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت له مسوولینو سره د دې پروګرام په عملي کولو کې مرسته وکړي. د ولایت سکتوري رییس ښاغلي علی حسن احمدي د ولایت مقام په استازولۍ په دې ولایت کې د موجوده بد اقتصاد په اړه چې د غور په کلیوالي سیمو کې یې خلک ډیر زیلي ربړا واچوله. هغه وویل: په غور ولایت کې له یوې خوا ناامنیو او له بلې خوا وچکالۍ د خلکو ژوند ډېر تریخ کړی او هیله یې څرګنده کړله چې دا پروګرام به ډیر ژر خپل فعالیتونه پیل کړي. ښاغلی عبدالحمید ناطقی هم د ولایتي شورا په استازولۍ خبرې وکړلې، چې په دې پروګرام کې یې د ښځو د اقتصادي ودې، د کاروبارونو پیدا کول او د دې ولایت په لرې پرتو سیمو کې د حرفوي زده کړو لپاره د هغوی ډیره وانده اخیستنه یو مثبت ګام وباله.

او له ټولو خلکو څخه یې غوښتنه وکړه چې په دې پروګرام کې مېرمنو ته د برخې اخیستنې لپاره ډیره زمینه برابره کړي. له هغه وروسته آغلې حلیمه شریفی د غور ولایت د ښځو چارو رییسې د وینا په ترڅ کې وویل: د غور ولایت مېرمنې په اقتصادي او ټولنیزو چارو کې ډیرې وروسته پاتې دي، چې په اقتصادي او ټولنیزو چارو کې یې د ښکیلتیا لپاره ډیر لړ کار شوی. نوموړې له دې امله چې دا پروګرام به د ښځو په اقتصادي او ټولنیز ژوند کې ژور بدلون راولي د خوښۍ څرګندونه وکړه.

په پای کې آغلې حلیمه شریفي او د دې ولایت نورو لوړ پوړو چارواکو د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت له فعالیتونو څخه درناوې وکړ او په دې ولایت کې د کلیو بیا رغونې او پراختیا ریاست د پروګرام له مسوولینو څخه غوښتنه وکړه، چې د کلیوالي تولیداتو د ودې او په کلیوالي سیمو کې خلکو لپاره د کاروبارونو او مشغولتیاو د پیدا کولو په موخه خپل فعالیتونه په لوړ کیفیت سره عملي کړي.




## د خوست ولایت په انکشافي جلسه کې د زون مسوول ګډون وکړ.

د ولایت پرمختیایي جلسه د خوست ولایت والي ښاغلي محمد حلیم فدایي، د والي مرستیال عبدالحمید پټان ، د کلیو بیا رغونې او پراختیا رییس، ولسوالانو، د غېر دولتي موسسو او د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام د ټولو ولایتي مسوولینو پر وړاندې د ولایت په مقام کې جوړه شوې وه.

ناسته د والي محمد حلیم فدایي په وینا پیل شوه. د وینا په سر کې ښاغلي والي د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام WEERDP له هلو-ځلو څخه درناوې وکړ، چې له هغه وروسته د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام WEERDP لپاره د جنوب ختیځ زون مسوول ښاغلي سلطان کریم د پروګرام د اساسي موضوعاتو په مناسبت خپل جوړ شوی پریزنټیشن د غونډې برخوالو ته وړاندې کړ او همدا راز یې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام لاسته راوړنو او پلانونو په اړه چې په دې وروستیو میاشتو کې ترسره شوې، بیان کړل. د غونډې برخوالو د پروګرام له اغیزمنو کړنو څخه درناوې وکړ او ټولو د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا له ملي پروګرام څخه په هره برخه کې د ملاتړ څرګندونه وکړه.



## د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام او د کرنې وزارت د بنیوالی او مالدارۍ پروګرام NHLP سره د تفاهم‌لیک ناسته



د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام WEERDP او د کرنې، مالدارۍ او اوبولګونې وزارت د بنیوالی او مالدارۍ پروګرام NHLP تر منځ د کېدونکي تفاهم‌لیک پر سر ناسته ترسره شوه.

د هم‌غږۍ دغه ناسته د روان کال د فبرورۍ میاشتې په ۱۸مه نېټه د کلیوبیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام په دفتر کې ترسره شوه. دواړو اړخونو د فني مهارتونو، ځنځیره‌یي ارزښتونو، ظرفیت لوړونې او نورو مواردو کې تفاهم ته ورسېدل او د لا همکارۍ ډاډ یې څرګند کړ.



## په لوګر ولایت کې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام پرانیستل شو

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام رسماً په لوګر ولایت کې په فعالیت پیل وکړ، د پرانیستې مراسمو کې د نورو دولتي چارواکو تر څنګ د دې ولایت والي هم ګډون درلود.

د لوګر ولایت والي ښاغلي انور خان اسحاقزي د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام د پیل څخه خوښي وښوده، او په لوګر ولایت کې د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ.

دا پروګرام به د لوګر ولایت په خوشي او پل‌علم ولسوالیو کې ۱۱٦مېلیونه افغانۍ بلاعوضه مرسته ترسره کړي، چې د پنځه کالونو په ترځ کې به ۱۴۴۸۰ کلیوالي وګړیو ته کاري بوختیاوې رامنځته کړي.



## له موږ سره اړیکه:

د نیله باغ سړک، دارالامان واټ، کابل-افغانستان

www.weerdp-mrrd.gov.af

www.facebook.com/weerdpofficial

@weerdpofficial

abdulwafi.nayebzai@mrrd.gov.af

+93 707 655 650

